# ستورو کي
# تالټوم

(شعري ټولګه)



Ketabton.com

شاعره: زرلښته حسيني

۱۳۹۴ لمريز کال

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ستورو کې تا لټوم

شاعره:

زرلښت حسيني

۱۳۹۴ل کال

بسم الله الرحمن الرحيم

# کتاب پېژندنه:

---


د کتاب نوم: ستورو کې تا لټوم

شاعره: زرلښت حسيني

خپروندی: د افغانستان ملي تحريك، فرهنګي څانګه

وېبپاڼه: www.melitahrik.com

کمپوز/ډيزاين: هدايت الله عادل

چاپشمېر: ۱۰۰۰ ټوکه

چاپکال: ۱۳۹۴ ل کال/ ۲۰۱۵م

د تحريك د خپرونو لړ: (۱۱۹)



يادونه: د چاپ حقوق له ملي تحريک سره خوندي دي او د کتاب د محتوا مسوليت ليکوال پورې اړه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم


## د کتاب ځانګړنې:

د کتاب نوم : ستورو کې تا لټوم

شاعره : زرلښته حسيني

کمپوز او ډيــــزاين : هدايت الله عادل ۰۷۰۰۸۱٤۲٤٤

چاپشمېر : ۱۰۰۰ټوکه

چــاپ وار : لومړی

چاپنېټــه : ۱۳۹٤ لمريز


# ستورو کې تا لټوم

شاعره

زرلښته حسيني

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

**د ادب مینه والو ته !**
**هغو دوستانو ته چې تل یې زده کړو ته**
**هڅولې او نازولې یم !**
**حسیني**

## ستورو کې تا لټوم

ستور کې تا لټوم دا د ځوانې شاعرې اغلې زرلښتې حسېنې در بیمه شعري ټولګه ده چې د خپل شاعرانه خیال انځورونه مې له سترګوتېروي او د خپلې مینې د نړۍ له ننداړتونه راته د شعر په ژبه د نیمګړو هیلو او ارمانونو کیسې کوي . وایي چې له ماشو متوبه مې په زړه کې د شعر مانۍ ودانه وه شاعرانه خیال به مې د مینې انځورونه جوړول دا انځورونه ورو ورو لفظونه شول ، هنرونه او پیغامونه شول د نظمونو او شعرونو په بڼه له خولې را ووتل ، او کتابونه شول ، زړه مې غواړي د انسانیت مقام ، د مینې معنا ، د مرستې فرهنګ ، د تمدن لاره ، د سولې او امن پیغام ، د ورور ولۍ اواز او د زغم کولتور د شعر په ژبه تعریف کړم او له دې لارې زړونو ته لاره پرانیزم تر څو له مرګه وروسته هم ژوندۍ پاتې شم .

وایې چې هر شاعر د یو شعر لپاره پیداوي زرلښته به شاعري کوي او د شعر په رنګینه نړۍ به خپل مرام ته د رسېدو لاره لټوي خو هغه شعر ته به کله رسي چې دا یې دې نړۍ ته را بللې ده ، سره له دې چې پر ځینو پنځونو یې ابتذال سیوری کړی خو تمه ده چې راتلونکي هغه به یې د ژوند ، ملي دردونو ، او انساني هیلو له هنره ډکې پیغامې کېسی زموږ مخې ته کیدی دا لا اوس هم تنکۍ پېغله ده د ژوند کم سپرلۍ یې تر شاه پري ایښي خو پنځونې یې زیری راکوی چې د شعر نړۍ یې د عمر په پرتله ډېره وده کړې که ژوند ورسره یاري وکړه لیرې نه ده ، چې د شاعرانه هنر هغه خواږه به یې هم وڅکو چې پښتو رنګینه شاعري او ادب ورته سترګې پر لار دی .

حسینې د هغو زړونو په لټون پسې راوتې چې د ژړا پر ځای د خندا په تمه ده ، د غمونو او نفرتونو له امله ویجاړ زړونه په مینه رغول غواړي ، ګروهې او عقیدې ته د تسلم سر ټیټوي ، د مور په نوم د هېواد او د هېواد په نوم د مور د مینې درناوی کوي حسیني له یوې خوا خوږې افغانې په توګه وطن ته لاس په دعا ده خو د

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپل بري راز بيا د مور په دعا ګانو کې لټوي ، خپل محبوب ته تر اسمانه په لوړه مينه درناوی کوي حسيني د زمانې پر جبر او ظلمونو اوښکې تويوي او پر هنري لفظونو يې غندي

ظالمه زمانه ده چې کعبه مې هيروي
ولاړه چې لمانځه ته شم سجده مې هيروي
دا ځکه مې څڅيږي اوښکی نن له تورو سترګو
تيارو کې يم ولاړه خو ډيوه مې هيروي
که ستا مينې ته ګرانه تر اسمانه ختی نه شم
خو ستا د ليدو لاره هم کوڅه مې هيروي
حيرانه حسيني شي لاس تر زنې ستا تصوير ته
د کور کلي رقيب چې ستا څېره مې هيروي

حسيني د بد مرغيو پر لاره د افغانانو روان اغزن يون غندي ، د پرمختګ په لور له او ږده انتظاره غمځپلې او وير ژړلې ده او د مينې پر لاره د جانان له تش راتګه يې هم د خوښۍ احساس په ټوپونو دی

که مې شي ختم انتظار اوښکې به نه تويوم
که مې جانان راشي پر لار اوښکې به نه تويوم
حسيني دا خلک ناپوه دي مينه نه پيژني
مينه ده ژوند ، مينه وقار اوښکی به نه تويوم

د حسيني شاعري د نيمګړو ارمانونو او خوږ من زړګي اواز دی او په ورو ورو سلګيو د غم شپې تيروي .

دا چې نيمګړی مې ارمان دی تا ته څه پته ده
ماشوم زړګی مې والله وران دی تاته څه پته ده
وړې وړې سلګۍ وهمه ګرانه تا يادوم



په حسيني د غم باران دی تا ته څه پته ده

يووالی او پيوستون يې ارمان دی له بد مرغۍ ، هجر او بيلتونه کرکه لري او د بيوسۍ او بې کسۍ نه بيزاره ده

مرګيه راشه نور طاقت زه د هجران نه لرم
بې له وصاله زخمي زړو ته بل درمان نه لرم
زه حسيني يې نن د مينې توبه ګاره کړمه
نور نو طاقت د بيوسۍ او د ګذران نه لرم

د مجازي مينې په بهانه د حقيقي مينې ترجماني کوي :

قبلومه تهمتونه ستا د مينې
که دې درد که پرهرونه ستا د مينې
غمازان مې بلوي په زړه اورونه
چې ليدلي مې خوبونه ستا دمينې

په پای کې اغلې زرلښتې حسيني ته د لا نورو ښو پنځونو او هنرونو د نذرانې په هيله .

درنښت
اورنګ صميم
کولتور کلوپ
۱۳۹۴/۱۲/۱

(c) ketabton.com: The Digital Library

## سریزه

هره شاعره او هر شاعر د شعر لپاره خپله نړۍ لري، خپل فکر لري، خپل ارمان لري، او خپله اراده او هوډ، هغه دا چې شاعر په دې پوهېږي، چې زه ولې شعر لیکم ، چاته یې لیکم او څه لیکم؟ شاعر هغه مسافر نه دی چې د شپې تېرولو لورې ورته معلوم نه وي، بلکې هغه څوک دی چې د مزل په لومړي قدم خپل منزل ته د رسېدو اراده لري، خو دا ارادې بیا یو ډول نه دي، دا مزلونه او سفرونه په یولور نه دي، څوک د مجاز ښار ته روان دي او څوک د حقیقت ، څوک په خپله شاعرۍ کې د نفس د طغیان سرنده غږوي، او څوک بیا د بغاوت پر وړاندې د مبارزې غږ پورته کوي، څوک ځان غواړي او څوک جهان، دشعر شاعر شعري ټولګه د یوې هېندارې په ډول ده، چې دشاعر یاشاعرې پټه نفسي دنیا پرې ښه څرګندېدای شي، موږ که دشاعر ذوق او فکر لوري معلومو او یا په دې ځان پوهو چې د شاعر نفساتي دنیا له څه جوړه ده، دا ځواب د شاعر په شاعرۍ کې موندلی شو.

زه د خپل عادت له مخې ځان د دې حق نه ورکوم چې د چا په شعرونو کې کره کتنه وکړم، دش عر ارزونه د لوستونکو کار دی، پدې ټولګه کې موږ د اغلې زرلښتې حسیني شعرونه لرو چې د هغې د زړه او ارمان کیسه کوي.

زه اغلې زرلښتې ته د دې کتاب د چاپ له امله مبارکي وایم .

درنښت

امید



## زما خبرې

**پتمنو لوستونکو !**

له ما شومتوب څخه مې هیله دا وه، چې شعرونه ولیکم او په مجلو ، اخبارونو کې چاپ او بالاخره د شعرونو ټولګه چاپ کړم .

الله ﷻ مې هیله په شپږم ټولګې کې پوره کړې او کله چې مې د لېسې دوره پای ته ورسېده، نو لومړنۍ شعري ټولګه مې ( په ځمکه ستوري ) د چاپ په ګاڼه سمبال شوه.

دا چې د ادب لمن ډېره پراخه ده نه پوهېږم چې دا کار به تر کومه ځایه په ښه توګه ما سرته رسولی وي او دا پرېکړه تاسو او محترمو استادانو ته پرېږدم.

بل دا چې پوښتنه مدام زما ملګرې له ما کوي چې څنګه شاعره شوې ؟ او وایي چې شاعر باید مئین وي، زه دا خبره نه رد کوم ځکه هر کار پرته له مینې شونې نه دي زه هم په ادب مئینه یم هیله مې هم همدا ده چې دادب له ستورو څخه یوه زه اوسم ، او دا هم باید هیره نه کړو چې که ستاسو هنري تنده زما په غزلونو او شعرونو نه ماتېږي، نو لا ډېر پسرلي راته په تمه دي، که ژوند راسره وفا وکړي انشاء الله خپلې پېرزوینې به په ښه ډول تاسو ته ورسوم .

په اخیره کې له خپلې کورنۍ د خپلو ټولو درنو استادانو هریو ښاغلی شمس الحق دوست، ښاغلي اکبر شېر ، توریالي مانخیل څخه او خپلو محترمو همصنفیانو او دوستانو څخه نړۍ مننه چې تل یې د شعرونو لیکلو ته هڅولې یم.

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تاسو هم نړۍ مننه او هیله مې داده چې د خپلې خور شعرونه د خپل ذوق له مخې ولولئ.

نور مو په هغه ذات سپارم کوم چې زموږ ببرته تګ د هغه په لور وي.

په مینه او ادب

زرلښته (( حسيني ))

درونټه

۳- ۱۲ – ۱۳۹٤

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د تحريك يادښت

د افغانستان ملي تحريك د (۱۳۹۳ ل) كال په پيل كې له خپلو ګرانو هېوادوالو سره ژمنه كړې وه چې د دې كال په بهير كې به (شل عنوانونه) بېلا بېل ديني، علمي، ادبي او ټولنيز اثار خپلې ټولنې ته وړاندې كوي. ملـي تحريـك دا ژمنـه د يـاد كـال د كـب پـر (۲۸)مـه نېټـه پـوره او د يـوې پرتمينـې غونـډې پـه تـرخ كـې يـې شـل عنوانونـه علمـي اثـار هېوادوالـو تـه وړاندې كړل. ملي تحريك په ياده غونډه كې ژمنـه وكـړه چـې د (۱۳۹۴ ل) كال په بهير كې به انشـاء الله د خداى (ج) پـه نصرت ټـول ټـال سـل (۱۰۰) عنوانه بېلابېل علمي اثار ټولنې ته وړاندې كـوي. طبيعـي خبـره ده چـې دا اسانه كار نه دى، ډېر زيات زيار او زحمت ته اړتيا لري، خو ملـي تحريـك ټينګ هوډ كړى چې خپله دا ژمنه به هم د تېرې ژمنې په څېر عملـي كـوي. دا اثر چې ستاسو په لاس كې دى د همدې (سل عنوانونـو) ژمنـه كـړو اثـارو له جملې څخه دى، چې د چاپ جامه اغوندي. ملي تحريك هيلـه لـري چـې لـه دې اثـر څخـه بـه زمـوږ هېـوادوال پـه زړه پـورې ګټـه پورتـه كـړي. ملـي تحريـك لـه ټولـو هغـو ليكوالـو، ژبـاړونكو، سـمونچارو، مـالي او معنـوي مرستندويانو او چاپ چارو څخه چې ددې اثـارو د چـاپ پـه دې ټـول بهيـر كې يې يو بل سره مرسته او ملګرتيا كړې او دا فرهنګي بهيـر يـې بريـالى كړى، د زړه له كومې مننه كوي او كور وداني ورته وايي.

د هېواد د فرهنګ د ښېرازۍ په هيله

د افغانستان ملي تحريك فرهنګي څانګه

(c) ketabton.com: The Digital Library



### د رحمان بابا په طرحه

## حمد

له هرڅه نه خبردار دی رب زما
هم د دوه کونو واکدار دی رب زما

له هغه نه نوراني نشته دنيا کې
چې ويلې چاته يار دی رب زما

هم رحمن دی هم رحيم پر مخلوقاتو
خو په خواکې هم قهار دی رب زما

هم احد او هم صمد دی سيال يې نشته
ځکه لوی پرور دگار دی رب زما

حسينې وايې پادشاه د کائيناتو
هم ستار دی هم غفار دی رب زما

۱۳۹۱\۸\۲۲
درونټه





## نعت شريف

لاس په دعا درته دا ټول ستا امتيان دي نبي
داستا لپاره تېر له سره هم له ځان دي نبي

چاچې ليدلی دی داستا ښکلی صورت او سيرت
هم منور دی هم نېکمرغه قدردان دي نبي

په مدينه منوره کې شو يو ستوری پيدا
ستا په راتګ خوښ ټول له مخې مؤمنان دي نبي

ډېر مهربانه وې په هر يتيم مسکين له ځانه
نيکو خويوته دې حيران پيغمبران دي نبي

يې اولين هم اخرين سر دار د ټولې د نيا
ځکه په تلو دې همه واړه پرېشان دي نبي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زړګیه تاپسې دنیا لټوم
هم د اسمان ستورو کې تا لټوم

پوهېږم عشق مې له غمو ډکه ده
نن ژړا ګانو کې خندا لټوم

راشه د خدای نه ویره وکړه اشنا
په وران وطن کې مینه ستا لټوم

په لار د مینې مې سوګند کړی دی
هره جفا کې دې وفا لټوم

حسیني وایي ژوند مې ستا مینه ده
خیر که نن ځې سبا دې بیا لټوم

۲۵ – ۱۱- ۱۳۹۴





## نوي کال ته

په سرو ګلونو مې ښایسته افغانستان ښکاري
راغلی ښکلی نوبهار مې په جانان ښکاري

دا چې خوشبویه وي د شپې نه تر سهاره پورې
داسې خوشبوی نه په پاریس نه په جاپان ښکاري

ما مې د غاړې امیلونه یې له ګلو جوړ کړل
دا نورې پېغلې د نارنج کل په ارمان ښکاري

چې غرونه دښتې مو رنګینې لاله زار شولې
بیا پرې باران لکه د ستورو په اسمان ښکاري

د ادب ستورو قافلو ترې هنرونه زده کړل
(( حسیني )) تاته لاس تر ځنې شاعران ښکاري

۱۳۹۱/۹/۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اوښکې به نه تویوم

که مې شي ختم انتظار اوښکې به نه تویوم
که مې جانان راشي په لار اوښکې به نه تویوم

څوک وایي مینه ده لوی غم او څوک یې بولي ښادي
چې سر مې شي له مینې ځار اوښکې به نه تویوم

نادان جانان مې زړګی ولې له ګوګله باسي
که شم مرګي لره تیار اوښکې به نه تویوم

د مینې درد که مې په زړه راته زخمونه جوړ کړي
زه قبلوم به یې په جار اوښکې به نه تویوم

مینه ده دومره په ماګرانه ترېنه نه تېرېږم
که شي په قار مې مور اوپلار اوښکې به نه تویوم

((حسیني)) دا خلک ناپوه دي مینه نه پېژني
مینه ده ژوند مینه وقاراوښکې به نه تویوم

۱۵ – ۵ - ۱۳۹۲





## مورجانې

چې یم ژوندی ستا به کومه زه عزت مورجانې
پیدا به نه کړم په دنیا ستا محبت مورجانې

دي شفقت ته دې حیرانه سرداران ددنیا
هم یې ستایلی دی هرځای کې ستا همت مورجانې

ستا دعا ګانې راسره دي په هر ځای کې ځکه
ته نیکمرغی ته یې زما د زړه راحت مورجانې

احسان دې مور په دې دنیا پوره کولی نشو
تر خپلې وسې به کوم درته خدمت مورجانې

چا چې د مور نازونه وړي دي په ژوند ((حسیني))!
هغه مدام دي بریالي او په عزت مورجانې

۱۳۹۱\۱\۱۴

درونټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ظالمه زمانه ده چې کعبه مې هیروي
ولاړه چې لمانځه ته شم سجده مې هیروي

دا ځکه مې څڅېږي او ښکې نن له تورو سترګو
تیارو کې یم ولاړه خو ډیوه مې هیروي

که ستا مینې ته ګرانه تر اسمانه ختی نشم
خو ستا د لیدو لاره هم کوڅه مې هیروي

له تانه هم خفه کله له ځانه په سلګو شم
غمو کې شمه ډوبه حوصله مې هیروي

حیرانه (( حسیني )) شي لاس تر زنې ستا تصویر ته
د کور کلي رقیب چې ستا څېره مې هیره وي

۱۵ – ۲۱ - ۱۳۹۲

امرخېل





## تاته څه پته ده

دا چې نیمګړی مې ارمان دی تاته څه پته ده
ماشوم زړګی مې والله وران دی تاته څه پته ده

هره لحظه مې تصور کې ولې ګرانه ته یې ؟
اوس مې ژوندون بې له تا ګران دی تاته څه پته ده

نصیب مې خوار دی ولې تانه به ګیله کومه
ځکه دا ستا مینه زندان دی تاته څه پته ده

کومه هره قسمه زړګی ته مې هر وخت نصیحت
زما نصیحت ته تل حیران دي تاته څه پته ده

وړې وړې سلګۍ وهمه ګرانه تا یادوم
په حسیني دغم باران دی تا ته څه پته ده

۱٦ – ۳ – ۱۳۹۲ درونټه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اوښکو ترجمان

زما د اوښکو ترجمان دی تر ې پوښتنه وکړه
ډېر دردیدلي مې زړه وران دی ترې پوښتنه وکړه

چا ویل وکړه ښه ښېرا ورته دعا ونه کړي
بیا چې بند شوی مې زبان دی ترې پوښتنه وکړه

زما د هیلو جنازې به هیڅ چا نه کتلې
وربانديې ډک اوس قبرستان دی ترې پوښتنه وکړه

په لویه لاره شوم نیمګړی دا مې څه ګناه ده
اوس هر ارمان مې پرېشان دی ترې پوښتنه وکړه

دا چې نن داسې بې حسابه اوښکې ځي مې په مخ
له (( حسینې )) چې ګریزان دي ترې پوښتنه وکړه



ستورو کې تا لټوم

## غزل

دا ستا مینه زما ګرانه لوی عزت دی
ای ژوندونه امید ستا هم حقیقت دی

راته ځان ولې پاچا، پاچا ښکارېږي
چې مې کله نه ستا کړي محبت دی

ټول ژوندون دې غلامي منم په سترګو
له اخلاصه مې ارمان ستا د وصلت دی

د رقیب خوا کې مې ختمه هوښیاري شي
نه پوهېږم دا مې څرنګه قسمت دی

شي رواني مې په سرو اننګو اوښکې
حسینې دا محبت دی که قیامت دی

۲۵ - ۱۱- ۱۳۹۱
سپین غر هوټل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مرګیه راشه

مرګیــــه راشـــه نـــور طاقـــت زه د هجـــران نـــه لـــرم
بـــې لـــه وصـــاله زخمـــي زړه تـــه بـــل درمـــان نـــه لـــرم

مشـکله کـار دی چـې بـه مـات زړګـی مـې بېرتـه روغ شي
راشـــه ژړېـــږي راتـــه نـــور زړه کـــې ارمـــان نـــه لـــرم

د تمـــام عمـــر خـــاطر مـــا يـــې پـــه ليمـــه قبـــول کـــړ
اوس مـــې د اوښـــکو حســـاب زه لکـــه بـــاران نـــه لـــرم

ســـوزم ايـــره شـــوم ولـــې مـــخ رانـــه پـــه بـــل اړوي؟
راشـــه دې لـــويې دنيـــاګۍ کـــې قبرســـتان نـــه لـــرم

زه ((حســـيني)) يـــې نـــن لـــه مينـــې توبـــه ګـــاره کړمـــه
نـــور نـــو طاقـــت د بېوســـۍ او د ګـــذران نـــه لـــرم

۲ - ۲ - ۱۳۹۲
ننګرهار پوهنتون





## غزل

داســـتا مينـــه زمـــا ګرانـــه لـــوی عـــزت دی
ای ژوندونـــه اميـــد ســـتا هـــم حقيقـــت دی

راتـــه ځـــان ولـــې پادشـــاه ، پادشـــاه ښـــکارېږي
چـــې مـــې کلـــه نـــه ســـتا کـــړې محبـــت دی

ټـــول ژونـــدون دی غلامـــي مـــنم پـــه ســـترګو
لـــه اخلاصـــه مـــې ارمـــان ســـتا د وصـــلت دی

د رقيـــب خـــوا کـــې مـــې ختمـــه هوښـــياري شي
نـــه پـــوهېږم دا مـــې څرنګـــه قســـمت دی

شي روانـــې مـــې پـــه سرو ســـترګو اوښـــکې
حســـينې دا محبـــت دی کـــه قيامـــت دی

۲۵ - ۱۱ - ۱۳۹۱
سپين غر هوټل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د نوي ځوان غږ

گرانې وهم د رته زنگونه سیمکارت مه بدلوه
درته لېږم کریډټونه سیمکارت مه بدلوه

خندا دې ښه ده خو افسوس چې مې لیدلی نه یې
وکړه په ما باندې نازونه سیمکارت مه بدلوه

په نیمه شپه کې چې رایاده شي پاڅېږمه ژر
پټ پټ درلېږم مسجونه سیمکارت مه بدلوه

چې تلیفون دی وي خاموشه سرگردانه گرځم
الله خومات دی کړه لاسونه سیمکارت مه بدلوه

حسیني گوره چې د دغو خلکو کار ونه کړې
درته به درکړي فریبونه سیمکارت مه بدلوه

۳ - ۲ - ۱۳۹۲
امرخېل درونټۀ





## بدقسمته لیلا

زړه خو مې چوي له ډاره نوم دې اخیستلی نشم
زه بدقسمته لېلا تاله زړه وېستلی نه شم

راته ښکاره شوې په نړۍ کې فیلسوف په رښتیا
اوس چې غمونو ته دې گورم دا زغملی نه شم

ما هم د مینې د دنیا قانون لانه وه لوستې
اوس چې یې لولم شم حیرانه دا لوستلی نشم

تصویر مې ستا زړه ته نږدې کړ په ژړا شومه زه
ته شوې بې درده خپل حالت ته مې کتلی نشم

دا خو پوهېږې چې هر چاته عزت گران دی اشنا
دا خپل نادان زړه پوهوم خو پوهولی نشم

حسیني څنگه دې کړم زه ستړی ستومانه له ژوند
اوس چې دا ستړی ژوندون لیکمه لیکلی نشم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

د خدای لپاره نور راته پېغور مه راکوه
ولاړ دي رقیبان لمبې د اور مه راکوه

له غمه به دې مرمه یوه ورځ واوره له مانه
که نه غمونه نور درې او څلور مه راکوه

زه یمه سرګردانه هرې خواته ستا لپاره
نو بیا راته پېغور د سر سرتور مه راکوه

زخمونه دې راکړي خو طبیب یې همداته یې
راځه اشنا خندا د کلي کور مه راکوه

خدای خبر مینه ده که شوی انقلاب دی
د عمر حیرانتیا په هریو لور مه راکوه

که مرم او که رغېږم ((حسیني)) تایادومه
بې درده ډار د مړینې او د ګور مه راکوه

۱۲ - ۸ - ۱۳۹۱
ننګرهار پوهنتون





## غزل

شپه شوله اوږده خو اشنا رانغی
مړه شوله ډیوه خو اشنا رانغی

ما یې انتظار له اعتبار کاوه
رایې کړه دوکه خو اشنا رانغی

اېښې مې خالونه وو تندي باندې
ځکه کړم ګیله خو اشنا رانغی

څوک به یې نیولې سترګو لاندې وي
ماته شو غصه خو اشنا رانغی

ځکه خو یې نن دا برالا وایم
شوم ورنه خفه خو اشنا رانغی

ما ((حسیني)) نه ګوري دا څه چل دی
ما کړلو مېلمه خو اشنا رانغی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## پښتني مېرمنې

په علم او فن دی ځان سینګار کړه پښتني مېرمنې
حیران دی ځان پورې اغیار کړه پښتني مېرمنې

ته د غازي امان الله او میرویس خان لورکۍ یې
لوړه پټکی د هغه د پلار کړه پښتني مېرمنې

لکه د شمعې ځان سیزه بل ته رڼا ورکوه
دغه مراد ته ډېر تلوار کړه پښتني مېرمنې

دی مو هېواد سترګې په لاره ستا خدمت لپاره
ختم یې دغه انتظار کړه پښتني مېرمنې

ستا په خدمت باندې ویاړېږي حسیني همېشه
سر له وطنه ځینې ځار کړه پښتني مېرمنې





## ستا د مینې

قبلومه تهمتونه ستا د مینې
که دی درد که پرهرونه ستا د مینې

خیر که شپې ورځې ژړېږمه جانانه
ما منلي ماتمونه ستا د مینې

غمازان مې بلوي په زړه اورونه
چې لیدلي مې خوبونه ستا د مینې

یوه ورځ به مې له درده زړګی وچوي
انبار شوي دي غمونه ستا د مینې

حسیني تل په ژړا کې په خندا شم
چې رایاد شي جنتونه ستا د مینې

درونټه
۲۲-۱-۱۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چې مې کړې ستا د مینې هر سفر دی
په لمحه لمحه مې څړیکې هر پرهر دی

کله ژړاړم کله خاندم شم حیرانه
لېونی به شم اشنا دا مې باور دی

خپل نامه خواکې مې ستا نامه لیکلی
په همدې خبرې ټول کلی خبر دی

دا د کوم رقیب د ستور دی نه پوهېږم
چې ژوندون په ما او تا باندې محشر دی

پرېږده وکړي ډېر ظلمونه ستمونه
نن بند کړی یې په ما باندې ور دی

( حسیني ) بېشکه خدای دې مهربانه
د قسمت لیکوونکی دا د هر بشر دی

۲۸ - ۱۲ - ۱۳۹۱





## زما میلمه دی

زما د زړه سلطان زما ځیکر زما میلمه دی
روژه او برات پرېږده چې ا ختر زما مېلمه دی

تر څو به زه گرځېږمه د عشق په لمده ځمکه
دا نن مې د ژوندون اسمان کې لمر زما مېلمه دی

زه حسن خو یې ستا یم لږه یمه په سوچو کې
دا ځکه مې د کور کلي نظر زما مېلمه دی

دا هسې رقیبان رانه چاپېره نن گرځېږي
خبر دي چې زما ښکلی د لبر زما مېلمه دی

حیرانه(( حسیني )) شي ورته ځکه ځیر ځیر گوري
الله خبر چې دا څنگه بشر زما مېلمه دی

۱۸ - ۲ - ۱۳۹۲
امرخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د فراغت نه وروسته خپلې لېسې په کتلو

راته په سمه ډاګ بیابان ښکاري
چمن دی خو زړه مې وران ښکاري

د مکتب ټول ماشومان اولویان
په مینه مینه راروان ښکاري

افسوس هغه وختونه څومره خواږه
وه پخوا اوس راته ویران ښکاري

په ښکلا ګانو به یې څوک نه مړېږي
ماته د لمر غوندې روښان ښکاري

دي هماغه استادان هغه زده کړې
اوښکې مې سترګو کې کاروان ښکاري

په اوښکو ډکو سترګو وایي (( حسیني ))
نه مې دوستان نه مې صنفیان ښکاري





## غزل

راکړې ماته دې ژړا ده ځان پښتون ګڼې ته
کړې دې لویه ناروا ده ځان پښتون ګڼې ته

ساده مجنونه لیلا ستا په انتظار ناسته ده
په ژړا ستا ښکلې لیلا ده ځان پښتون ګڼې ته

یوه لحظه مې په خدای بې له تانه نه تېرېږي
ګیله مې هم ګرانه له تا ده ځان پښتون ګڼې ته

ما مې زړګي کې څه په مینه ستا نامه لیکلې
رښتیا مې داکړې خطا ده ځان پښتون ګڼې ته

ما به رقیب سره دا ستا په سر جنګونه کول
منلې تاد چا وینا ده ځان پښتون ګڼې ته

حوصله نوره شوه راتنګه ( حسیني ) پوهېږم
درته مې کړی بس خیرا ده ځان پښتون ګڼي ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لټوم

خدای خبر چاپسې دنیا لټوم
خپلو دردونو انتها لټومه

ما د وصال خوبونه ډېر لیدلي
اوس تورتمونو کې رڼا لټوم

چې مې د مینې په لار ایښی قدم
خوا کې پښتو هم مې حیا لټوم

دې فرعونیانو یزیدانو ته مې
زه د موسی ښکلی امسا لټوم

چاته شوه مخ د یار کعبه ( حسیني )
زه اوس د مخ کعبه د چا لټوم

۱۹ - ۱ - ۱۳۹۲
امرخېل درونټۀ





## غزل

ستا د یادونو به جانانه کیسه هېره نه کړم
تا سره کړی مې سوګند وعده به هېره نه کړم

هسې موسکۍ شمه ستا خیال کې لیونیانو په شان
تاته لیکلی مې اشنا تپه به هېره نه کړم

څوک له قسمته ځنې ژاړي څوک له تګې دنیا
له دې دوه مخې زمانې ګیله به هېره نه کړم

چې شوې دا یاد ولاړه ومه د تهجد په لمانځه
وسوم لبه شومه هغه شیبه به هېره نه کړم

دامې خطا ده چې په تا مئندمه ګرانه
ایستلی سل ځلې توبه به اشنا هېره نه کړم

کړله مې تاته د حسیني، خپله خوره لوپټه
بیا چې دې راکړله اشنا دوکه به هېره نه کړم

۲۸ - ۱- ۱۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

دا څنگه د بل چا مې اوس خیالونه مېلمانه دي
خندا شوه رانه هېره ټول غمونه مېلمانه دي

له ډاره له هېبته زه کتلی ورته نشم
دا ځکه یې قارون په شان کبرونه مېلمانه دي

نن داسې راته ولې وایې دا مغرور اشنا
د دې کلي مې ټول ښکلي گلونه مېلمانه دي

که څو راباندي وکړې اې بېدرده بې وفا
له ما سره ستا ټول عمر یادونه مېلمانه دي

په خیال او عاطفه کې مې هنر د حسیني دی
د ژوند هره لمحه کې مې شعرونه مېلمانه دي

۱۸ - ۱- ۱۳۹۲
ننگرهار عالي دارالمعلمین





## غزل

په کتلو مې دا وران زړگی ودان دی
ورسره لیکلی ما هریو ارمان دی

لټوم یې په څلور کنجه دنیا کې
هم مې ژوند او هم زما ښکلی جانان دی

دې قطار مې اوښکې نن په اننگو کې
ځکه نن ورته دا کور کلی حیران دی

پادشاهي مې ورته مینه ده گټلې
سوزیدلی مې زړگی یې له هجران دی

تر صورت یې محبوبا هیڅ دي
زما زړه دې هم زما ماه تابان دی

زه یې کله کړم غزل کله سندره
حسیني ستایلې ما په هر میدان دی

۲۷- ۱- ۱۳۹۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## لغمانی جانان

له ټولو ښکلو نمبر وړی په جهان دی
لغمانی زما جانان دی

ورته کتلي مې يو ځل دی
زړه رانه وړی يې په چل دی

په ټولو ښکلو کې مې خوښ همدا يو ځوان دی
لغمانی زما جانان دی

هم په غيرت کې دی نامدار دی
هم په همزولو کې هوښيار دی

صرف په ليدو يې اباد شوی مې زړه وران دی
لغمانی زما جانان دی

ماته له هر چانه بهتر دی
ليدل يې سم لکه اختردی

حسيني وايي بې له تا ژوند سم زندان دی
لغمانی زما جانان دی

۱-۱ ۱۳۹۲ لغمان شريف ، غازي اباد





## سروکی

څومره مې گرانه نن يادېږي ويلی نشم درته
د زړه په تل کې مې اوسېږې ويلی نشم درته

زه يمه ستا ښکلې ليلا
نن درته وايمه صفا
هيره مې ته نه کړې اشنا
ولاړه يم په انتظار
سيزلې يم دې بې انگار
چې گرانه نه مې يې په لار

څومره دردېږم چې بېلېږي ويلی نشم درته
دزړه په تل کې مې اوسېږې ويلی نشم درته

زه څومره يمه ژړېدلې
څومره دې يم په اور سېزلې
په کور کې ټولو يم رټلې
نو بيا خپل ژوندته شم حيران
پوهوی نشم زړه نادان
تا پسې گرځم سرگردان
چې گرانه څنگه به پوهېږي ويلی نشم درته
د زړه په تل کې مې اوسېږي ويلی نشم درته

(c) ketabton.com: The Digital Library



تصویر دې دی له ماسره
هردم يې کړمه تماشه
يې مې د زړه په کور دېره
نه لرې ماباندې باور
دعاکوم هر مازيګر
چې شې زما د زړه خبر

چې بيا به څنګه حيرانېږي ويلی نشم درته
د زړه په تل کې مې اوسېږي ويلی نشم درته

خير که په تا نن اضافه ده
د چا هم خور د چا ورېره ده
د قسمتونو معامله ده
نن چې ژړېږي بې ګناه
ګورې د ميني دا سزا
حسيني وايي په رښتيا

چې څومره بيا پښېمانېږي ويلی نشم درته
د زړه په تل کې مې اوسېږي ويلی نشم درته





## غزل

شم به دې ليلا چې وار خطا نشې
وه ګرانه اشنا چې وارخطا نشې

دا د پښتنې ليلا خبره ده
يم ستا د لربا چې وارخطا نشې

زه به دې له تورې تاريکۍ باسم
يمه دې رڼا چې وارخطا نشې

دا د تقيديرونو مسلې ګوره
خير که يو جدا چې وارخطا نشې

ما او تا راضي يو په چا څه کوو
نه يم بې وفا چې وارخطا نشې

ستا په مينه ګوره وفاداره ده
ده (حسيني) ستا چې وارخطا نشې

۲۸ - ۱- ۱۳۹۲
درونټهٔ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د رحمان بابا د شعر په طرحه

((ته چې بل په غشو ولې هسې پوه شه
چې همدا غشي به ستا په لور گذار شي))

چې خزان راوستی تا په ننگرهار دی
ارمان پاتې به ستا زړه کې د بهار شي

کوم ظالم خدای رسولی تر اسمان دی
شرمېدلی په جهان په سر د دار شي

عاطفه اخلاص چې نه وي په زړگي کې
بیا به ورکه د ژوندون تړې هره لار شي

چې سېزي په اور باغونه د گلونو
په نصیب به یې نه گل نه به مالیار شي

دین یې هېر دی په سیاست ځینې نازېږي
موږ چې هر څوک مشر کړی دی غدار شي

(( حسیني )) نن مو په خوار ملت ماتم دی
په ظالم باندې په قهر به لوی قهار شي





## غزل

پرون له ډېره درده ما ژړل تا به خندل
ته تللې ما په بیا بیا در کتل تا به خندل

وعده دې راته راکړه ما ویلې چې به ستون شې
له مینې چې دې مخ کړلو ما ښکل تا به خندل

چې ما د خپلو ټولو هدفونو تعبیر ته کړې
تا نه منله ما درته ویل تا به خندل

ستایلی مې هر بیت کې هم مې دا درته ویلي
چې نشته مې د ژوند بهیر کې بل تا به خندل

دوکه شوه حسیني گرانه په قوم او قبیله دې
یادونه د وصال به مې شمېرل تا به خندل

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ماشومه یمه

مه کوه طمه د جفا زه لا ماشومه یمه
وېرېږم زه له دې دنیا زه لا ماشومه یمه

مه کوه ګیلې د نفرتونو کلی نه پېژنم
ده پوهې زما خطا زه لا ماشومه یمه

یمه ساده خنګه په سترګو کې شوخي وکړمه
خنګه دې پوه کړمه اشنا زه لا ماشومه یمه

شمارمه شپې ورځې چې کله به راځې جانانه
ستا یمه نن دی که سبا زه لا ماشومه یمه

زه حسیني دې ګرانه ستایم د غزل کرښو کې
دی مې هر بیت کې نامه ستا زه لا ماشومه یمه





## غزل

تر مرګي زه دې یادومه ته مې مه یادوه
ولې به سترګې بدلومه ته مې مه یادوه

مه یادوه مې اشنا اور د جدایی مې بس دی
ستا په نامه خپل ژوند لیکمه ته مې مه یادوه

نادان زړګي له لاسه نن مې اوښکې نه درېږي
په سالو اوښکې پاکومه ته مې مه یادوه

که جرم هم وي ماته ګران یې په والله زړګیه
په جار مې جرم قبلومه ته مې مه یادوه

ګیلې کوي ستا هر تصویر ته حسیني له درده
تر لحد تانه هیرومه ته مې مه یادوه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ټوله دنیا له تانه ځار شه زما ځیګر جانانه
نن بې له تا مې دی په څریکو هر پرهر جانانه

ښکلی څیره دې ما کعبه او مدینه ګڼلې
ځکه هر دم مې ستا په لور دی هر نظر جانانه

له خپلې مینې دې بې برخې کړم ګناه مې څه ده
په ما دې پورې کړ د خپل د زړګي ور جانانه

ما ستا د هجر زندان خوب کې هم لیدلی نه وه
ډېره وم خوښه ستا د مینې په سفر جانانه

حسیني نه اورم له مینې دې بې درده اشنا
یو ورځ ضرور به شي له مرګه مې خبر جانانه





## غزل

زما تیاره جنازه وه ولې پوه نشولې
دنیا په ماتوره تیاره وه ولې پوه نشولې

هک پک دې پاتې کړم مغروره اشنا هغه لحظه
زما د ژوند وروستی لحظه وه ولې پوه نشولې

ما ویل شم به ستا د مینې شهزادګی په دنیا
کړی مې تا سره وعده وه ولې پوه نشولې

نن چې ژړېږمه د کور کلي خندا دې کړمه
مینه رښتیا که مې دوکه وه ولې پوه نشولې

چې حسیني ته تا د عمر حیرانتیا ورکړله
ژوند مې رښا ستا په نامه وه ولې پوه نشولې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ژاړم پـه سروسـترګو خپـل سـترګې بـدلولی نشـم
مینـه دې غـواړم تـر قیامـت تـا هېـرولی نشـم

د پـاکې مینـې جـزا مـه راکـوه خـدا لپـاره
تـا بـه کـړم پـوه خـو ګرانـه خپـل ځـان پوهـولی نشـم

هـره لحظـه پـه مـا مـاتم دی چـې جـدایې ګرانـه
مـرګ بـه قبـول کـړم زړه کـې نـوم د بـل لـیکلی نشـم

تـا پسـې ژاړم ځکـه نشـته مـې عـلاج د زړګـي
اوس مـې پـه مخ روانـې اوښـکې هـم شمېرلی نشـم

حسـیني سـتا د وصـلت خـدای تـه دعاګـاني کـوي
زه پـه ژونـدوني ګرانـه تـا د بـل لیـدلی نشـم





## غزل

دا مـې بـاور دی چـې بـه زه لیـونی کېـږم اشـنا
سـتا کـه دا غـرور او دا رتـلي ځوابونـه وي

ستوری د اسمان که شم پـروا مې هـم پرې نه راځي
خـواکې ګرانـه سـتا راتـه اغـزي بـه ګلابونـه وي

کړمـه دې شـاعره تـا دردونـه پـه زړګـي راکـړل
تـه کـه شـې زمـا بیـا بـه مـې روغ د زړه زخمونـه وي

دا د بـې وسـی اوښـکې تـر کومـه بـه کـړم تـویې ګرانـه
نـه یـې شـم زغمـلی چـې پـه څرېکـو مـې دردونـه وي

ژونـد د حسـیني چـې خـدای لپـاره نـور بـه شـا نشـې
خـو بـه دا ګیلـې او دا نیمګـړي غزلونـه وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

اوس مې د اوښکو قطارونه شرموې په کلي
د بې وفا جانان يادونه شرموې په کلي

يا به ماشومه وم يا فکر به مې نه رسېدو
اوس مې هر خيال او تصويرونه شرموې په کلي

په نصيحت نه و زړگی نو ما به څه کړي وای
اوس درديلي پرهرونه شرموې په کلي

ما به په ژوند هم د هيچا خبرې ته نه کتلي
اوس چې مې کړي ديدونه شرموې په کلي

حسيني شکر چې لږ لويه شوم نور فکر به کړ م
د چا ليدلي مې خوبونه شرموې په کلي





## غزل

د ماشومانو په شان تاپسې کړېږمه
تا پسې دردېږمه راشه بې وفا

ستا په وعدو او قسمونو مې باور وکړلو
بې گناه کړېږمه راشه بې وفا

ستا د راتلو په طمه لويه لار کې ناسته يمه
تا پسې دردېږمه راشه بې وفا

زه دې له پاک الله نه غواړمه زما زړگيه
ولې به بدلېږمه راشه بې وفا

دا ستا په سترگو حسيني نه دا دنيا ښکلې ده
ژوند ته حيرانېږمه راشه بې وفا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چې ستا غمونو سره ژوند تېروم
هر لحظه مې په ژړا تېرېږي

ته مې ژړا تعبیرولی نه شې
چې څه په ما سبا بېګاه تېرېږي

ما شهزاده د ټول جهان ګڼلې
په ما هر درد د ستا جفا تېرېږي

په بې وسۍ مې ته خندا مه کوه
په ما هر درد له غمه ستا تېرېږي

له پاک الله نه حسیني غواړي تا
لحظه ماتم په ما تېرېږي





## غزل

مینه وه بلا خبره نه وه
شم به یک تنها خبره نه وه

څومره په اسانه مې زړګی درکړو
شي به ته په شا خبره نه مه

خوب کې مې هم دا تصورنه کاوه
شي به د بل چا خبره نه وه

چا پردې خپل کړي دا مشران وایي
نه منلو ما خبره نه وه

ټرمې اوښکې تلې مې اننګو باندې
څه مې وه ګناه خبره نه وه

ما قبوله ستا مینه په جار کړله
نه وم بې وفا خبره نه وه

شپه به په خیالونو ماسهار کړله
نه به شم لیلا خبره نه وه

زه حسیني تاله ژونده سترې کړم
ځکه کړم ژړا خبره نه وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د خپلواکۍ ترانه

له هر غلیم نه مو ګټلی هر میدان دی
نن مې غږ د ازادۍ د خوږ جانان دی

سرمو ترې ځارکړلو نیکونو
په خوږ هېواد مو هم پلرونو
سر پرې بایلي ترڅو ژوندی چې هر افغان دی
نن مې غږ د ازادۍ د خوږ جانان دی

دی دغه خاوره مو عزت
ستاتو د وینو په قیمت
زموږ غیرت ته مو دښمن پاتې حیران دی
نن مې غږ د ازادۍ د خوږ جانان دی

چې مو اخیتسی استقلال دی
ځکه لمانځلی مو هر کال دی
حسیني وایي زموږ افتخار غازي امان دی
نن مې غږ د ازادۍ د خوږ جانان دی





## سندره

قسم دی چې لیدلی مې خوبونو کې بیګاه یې
بې درده په زړه ګي مې وریدلی یو ځل بیا یې

زه یم د فکر ټال کې
یې زما خاطر او خیال کې
په طمه ستا وصال کې

زما د خوږ زړګي د ارمانو لویه دنیایې
بې درده په زړګي مې وریدلی یو ځل بیا یې

حیرانه یم غمو ته
ژړا خپلو سلګو ته
غرور او ستا پښتو ته

چې خدایزده ګرانه ته د کومې ختې نه پیدا یې
بې درده په زړګی مې ورېدلې یو ځل بیا یې

حسیني وایي جانانه
له تایمه پرېشانه
زړه تورمې شو دنیانه

ځي اوښکي مې له سترګو چا ویلي د بل چا یې
بې درده په زړګي مې ورېدلی یو ځل بیا یې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سندره

راځه اشنا په انتظار دا ستا لیلا ناسته ده
بې له تا مري په شور غوغا په واوېلا ناسته ده

نه ویني بل ښکلی له تا جانانه
مینه یې ده ژوندون دا ستا جانانه
ډکې دنیا کې نن تنها ناسته ده
بې له تا مري په شور غوغا په واویلا ناسته ده

زړه له تا نشي صبرولی گرانه
ځکه تا نشي هیرولی گرانه
بې له تا ځکه بې نوا ناسته ده
بې له تا مري په شور غوغا په واویلا ناسته ده

دا ستا له غمه زیارتونو پسې
گرځي ملا او تعویزونو پسې
ستا حسیني په نامه ستا ناسته ده
بې له تا مري په شور غوغا په واویلا ناسته ده



ستورو کې تا لټوم

## غزل

ژوند نه تېرېږي بې له تا نه زما
تور شو زړگی مې له دنیا نه زما

چا راته وویل نشته دی دنیا کې مینه
سترگې مې ډکې شوې ژړا نه زما

سترگو ته هره لحظه درېږي مې ستا دروغ او خندا
زړگی مې چوي ستا جفا نه زما

دا ستا په سترگو ماته ښکلې وه دنیا جانانه
اوس مې زړه موړ شو له دنیا نه زما

حسیني ته د شهزادگانو شهزاده گڼلې
ځکه گیله مې ده اشنا نه زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سروکی

څومره ښکلی مینتوب و،ماشومتوبه بېرته راشه
څه منلی لېونتوب وه،ماشومتوبه بېرته راشـه

وړلــو مــور پــلار مــې نازونــه
خندیــدل بــه راتــه ترونــه
وه پــه مــا بانــدې جنګونــه
وه بــه ټــول زمــا پــه خیــال
چــې شــم لویــه کــال پــه کــال
شــم بــه علــم بــه ســمبال
سم زما د ناوې خوب و، ماشومتوبه بېرته راشه
څه منلی لېونتوب وه،ماشومتوبه بېرته راشـه

نــازولی پــه خپــل مــور شــوم
بیــا ډیــوه د خپلــې کــور شــوم
بیــا پــه ټولــو بانــدې زور شــوم
وه خــواره هغــه وختونــه ،
نــه ســتم اونــه غمونــه
ومــې ژونــد لکــه ګلونــه
ډک له مینې مینتوب و، ماشتومتوب به بېرته راشه
څه منلی لېونتوب وه،ماشومتوبه بېرته راشـه





شــو پیــدا کــور کــې اغیــار
راتــه ویــې لمســو پــلار
شــوم لــه ژونــده توبــه ګــار
شــومه ســترې پــه رښــتیا
چــې الله مــې واخــلي ســاه
حســینې شــوم پــه ژړا
په ژړا چې پیغلتوب و،ماشومتوبه بېرته راشه
څه منلی لېونتوب وه،ماشومتوبه بېرته راشـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

چې مې په يو نظر اشنا وينم نور څه نه وينم
په خدای قسم چې په خنداوينم نور څه نه وينم

راته کعبه او مدينه اوس د يار مخ جوړ شو ی
هلته مروه هلته صفا وينم نور څه نه وينم

يوه لحظه يې له غموژوند تېرولی نشم
د هغه سترگو کې دنيا وينم نور څه نه وينم

خير که د عشق په سمندر کې دې هم ډوبه شمه
افسوس په دې هلته ښېرا وينم نور څه نه وينم

حسيني ستا د مينې تعبير کوي په ژړا
هر چېرې ځان هسې تنها وينم نور څه نه وينم





## غزل

چې مې نه شولو جانان په مرگ راضي يم
شو نيمگړی مې ارمان په مرگ راضي يم

شوه زما د پاکو هيلو بېړۍ غرقه
شو گوگل کې مې زړه وران په مرگ راضي يم

چې په مخ باندې مې ځي پرېشانې اوښکې
چې مې شوې اوښکې ارزان په مرگ راځي يم

پس له مرگه مې بيا ونه کړې ويرونه
نشته وس مې د هجران په مرگ راضي يم

حسيني له بې وسۍ نه په ژړا شوه
ويل يې ژوند ته يم حيران په مرگ راضي يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

والله نامه دې گرانه خپل زړگي کې ما لیکلې
د زړه په مینه مې د مینې ښه دنیا لیکلې

یمه ساده پاده شاعره بې له تا نیمگړې
له تا مې هره گیله وایم ما رښتیا لیکلې

د زړگي زخم مې پرېږده پټې پرې مه لگوه
له مجبوریته مې ژړا هلته خندا لیکلې

پوهېږم دومره مهربانه خوته هم نه ښکارې
ځکه دا ستا د ژبې ما ټوله معنا لیکلې

خانده په ما پورې خندا کوه ځه خدای خو شته دی
دې حسیني زړگي کې بیا درته دعا لیکلې





## غزل

زړه کې لیکلی مې یوازې ستا نامه ده که نه
ځکه ترې ډکه زما ټوله حافظه ده که نه

څه به او چاته د خپل د خوږ زړگي حالت بیان کړم
ډېر دروغجنه دوکه بازه زمانه ده که نه

چې شي رایاده لکه ماشوم په شان زه شم په ژړا
ځکه مې تل د خپل تقدیر په سرلانجه ده که نه

که ته دې مینې ته بل نوم د لیونتوب ورکوې
بیا لېونتوب کې گرانه ستا څومره مزه ده که نه

نده کعبه حسیني دومره په ځیر ځیر مه گوره
بې وفا یار سره خو گرانه گذاره ده که نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

جدایی کې ستا غمونه دي او زه یم
ملهم نشته بس زخمونه دي او زه یم

غلې ناسته په هر کنج وایم غزلې
بس د اوښکو طوفانونه دي او زه یم

ستا په یاد کې چې ضمیر مې قضاوت کړي
ټول نیمگړي ارمانونه دي او زه یم

په زیارت کې به دې مینې توبه باسم
هلته زما د زړه رازونه دي او زه یم

حسني سره شوه غم د ژوند ملگری
ستا راکړی ځوابونه دي او زه یم





## غزل

ای نصیبه څنگه خوار او زار دې کړم
مینه کې غمجن او بې قرار دې کړم

روح او د ژوندون ډیوه مې صرف ته وې
سترگو کې جرگه که انتظار دې کړم

هسې زړه زما خانه خراب دې کړو
خلکو ته ښکاره نادان معمار دې کړم

هسې بې گناه زړگی مې ژاړي اوس
نه خودي غلام نه خو بادار دې کړم

هسې دې په سپینه خوله نامه اخلم
زه حسیني سم په سر د دار دې کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د لغمان جان سندره

نن مې یادېږي لغمان جان زړګی مې وران دی
نور مې سخت دلته ګذران دی ګذران

لیلا به ناسته وي ګودر کې
زما لپاره مازیګر کې

یم وارخطا ورک رانه روح او هم مې ځان دی
نور مې سخت د لته ګذران دی، ګذران

چې مې یادېږي سپین رخساره
پاتې له مانه شي روزګار زه

اوس پادشاهي مې صرف دیدن د خپل د جانان دی
نور مې سخت دلته ګذران دی ګذران

سرمې دې تل ترینه قربانه
په هر بچي د لغمان جانه

په حسیني ګران په نامه پشیي لسان دی
نور مې سخت د لته ګذران دی ګذران





## ( سندره )

مرګیه راشه زړه مې تور له ټول جهان دی
نیمګړی مې ارمان دی په دغه زمانه کې

سوچوکې د اشنا یم
شپې ورځې په ژړا یم
له نصیب په واویلا یم

دا ځکه د ستمګر زما جانان دی په دغه زمانه کې

ځي اوښکې مې بې شماره
کوم دی انتظاره
ته زما د ژوند بهاره

زړه تور مې له هجران دی په دغه زمانه کې

راځه زما دلداره
سوزېږم بې انګاره
ژوندون نه شوم بېزاره

دغم په ما باران دی په دغه زمانه کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



## په ځمکه ستوری

ای ژوندونه دانصیب مې ولې وران دی
بې وفا او نارضا زما جانان دی

که هر څو وګورم نه راته راګوري
بیا هم ماته په نړۍ کې قدردان دی

چې دی ګورمه په ځمکه ستوری ښکاري
زما زړه دې هم زما د زړه سلطان دی

زما مینه محبت ورته معلوم دی
نو بیا ولې زما مینې ته حیران دی

حسیني به دې نامه زړګي کې ساتي
بیا مې کړې دی سوګند په پاک سبحان دی





## ښوونکیه

ته موږ ته ډېر یې قدردان ښوونکیه
زموږ لپاره سرګردان ښوونکیه

تا چې زمونږه اینده ښکلی کړه
ستا پېرزوینې نه قربان ښوونکیه

مقام دې لوړ دی تر اسمانه پورې
دا ذکر شوی په قرآن ښوونکیه

کړې ترقي به دغه وران هېواد مو
ستا په مېړانه او ایمان ښوونکیه

ژوند کې شادابه سر فرازه اوسې
د حسیني دی دا ارمان ښوونکیه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سترګې

ځوک به مې وچې کړي لمدې سترګې
وبه مې کړي چاته ګيلې سترګې

ځان سره عادت لکه سوالګره کړم
چاته به مې کړي نور سوال زاري سترګې

سوچ لا د انجام راسره هيڅ نه و
لا چې به ژړېږي مې د شپې سترګې

هسې د بدبه دې د پښتو ډېره
ځکه خو مې وکړلې سجدې سترګې

اوس به يې د فراق جېلخانه وتړم
زه حسيني کړم به مې روژې سترګې





## غزل

زه يمه له تا ځار ګرانه هر وختې ځارېږم به
زه يم ستا ملاله به يادېږمه به

هر کوښښ مې ګرانه صرف دا ستا خوښي لپاره وي
ستا نامه لپاره ګرانه تل مدام خندېږم به

نه يمه حيرانه ولې دومره بې قراره يم
خير دی که نن سخته ده يو ورځ ضرور خندېږم به

هېره رانه ټوله دا د نيا په يو خبر ه شي
نوم چې ګرانه ستا واورم ضرور وارخطا کېږم به

ګرانه که د ستورو په شان لوړ اسمان ته ورسم
هلته که ته نه اوسې زه خامخا غورځېږم به

هو د حسيني د زړه دنيا په تا ودانه ده
مه کړه ستمونه ستمو کې دې ژړېږم به

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

سترګې مې پټې پټې کېږي چې يادېږې راته
دننه زړه مې خوشحالېږي چې يادېږې راته

بس ستا ديدن زما مقصد دی هره خوا ګرځم
زړه پوهوم خونه پوهېږي چې يادېږې راته

د زړه برجونه مې ويجاړ دی ګرانه وکړمه
صرف په خندا دی ودانېږي چې يادېږې راته

ستا وصال شپې ته ارمانجنه ګرانه مړه به شمه
په دې خبر مې خوله خندېږي چې يادېږې راته

حسيني وايي تاويز ګر غريب په څه پوهېږي
په تعويزو زړه نه صبرېږي چې يادېږې راته





## غزل

ګرانه يتيمې په شان ځان ليدلی نشم دلته
روانې اوښکې په ګريوان ليدلی نشم دلته

نه پيغمبر نه صحابي اونه ولي يمه زه
چې له ما اخلې امتحان ليدلی نشم دلته

زړه ته نږدې مې کړه زه يمه له مودو انتظار
دا د مودو هجران ليدلی نشم د لته

چې وم رښا ته نو تا ولې کړې تيارې راباندې
له دې تورتم ځان ګريزان ليدلی نشم دلته

حسيني وايي غرکه لوړ دی په سر لاره لري
خو ستا د زړه د لار امکان ليدلی نشم دلته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

هسې د دروغو تسلي بې وفا مه راکوه
راته بې درده بې گوزاره ژړا مه راکوه

يمه پيدا که ستا په مينه کې فناهم شمه
نوره پروا راته د ځان او دنيا مه راکوه

شومه ستي زه ستا په مينه کې جانانه زما
اوس تقريرونه د ثواب او گناه مه راکوه

د مينې درد ډېر هوښياران کم عقل کړي دلته
ورته نامه د روند ناپوه نابينا مه راکوه

له ځنکدن نه گرانه سخته ده ستا مينه راته
ما حسيني ته نور پېغور د حيا مه راکوه





## غزل

قسم دی گرانه ستا په انتظار مې زړه ځورېږي
هر څو يې صبروم ديدن ته ستا نه ايسارېږي

کوه په ما نازونه مجبوري مې ستا ديدن دی
افسوس گرانه زخمي زړگی مې ژاړي نه صبرېږي

زه څه وکړمه خدايه يم بې وسه په دنيا کې
د هجر توان نه لري زړگی مې حيرانېږي

هم وبه خاندم وبه ژاړم وبه کړم فرياد
د مينې نه توبه مې خدايه ولې نه قبلېږي

د مينې طلب گاره دی والله اوس حسيني ده
ستا مينه خپل ايمان گڼي خير که گنهگارېږي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

زه دې هره لحظه غواړم هیر مې نه یې
ښه صفا یارانه غواړم هیر مې نه یې

له تقدیر سره مې وسه نه رسیږي
خو اکې ستا زه دیره غواړم هېر مه نه یې

راته ستا د مخ کعبه سترگو ته درېږي
زه یې هردم سجده غواړم هیر مې نه یې

موده شوې گرانه نه مې یې لیدلې
له تصویر دې بوسه غواړم هېر مې نه یې

حسیني وایي ستا مینه مې جنت دی
درنه کلکه وعده غواړم هېر مې نه یې





## غزل

خیالونه به دې هیر کړم خو یادونه هیروی نه شم
له قیده به دې تېر شم زندانونه هیروی نه شم

ستا پټې مرکې چې مې والله هر دم په زړه راځي
له اوښکو له فریاد ډک غزلونه هیر وی نه شم

له ځانه چې شړې مې لږ گناه مې راته ښیيه
د دروغو خنداگانې او نازونه هیروی نه شم

په خوله که مې دا ستا نامه له ډاره اخیستی نشم
خوستا په سر مې کړي سوگندونه هیروی نشم

د هر چا منت بار شوه حسیني شوه په ژړا ځکه
اوس ولې ډک له اوښکو گریوانونه هیروی نه شم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ستا له غمه سوزیدلې په ځیگر یم
تانه یوسل ولس ځله بهتر یم

چې په فکر داشنا هیڅله نه وسم
ژړیدلی ورپسې شپې تر سحر یم

چا لپاره چې بدنام شوم په عالم کې
هماغه دلبر ویشتلی په خنجر یم

مروره گیله منه یم ترې هسې
هسې زه د جانان لار کې قلندر یم

د اشنا په طلب کور او کلی اور شو
نا امیده اوس د ژوند په هر سفر یم

نصیحت په عاشقۍ کې کله منم
همېش وایم تل مې روح د خپل دلبر یم

شومه غرقه حسیني ستا په فکرو کې
اوس غافله د الله او پیغمبر یم





## غزل

گذاره گرانه شوه جانانه اوس هجران سخت دی
زه شومه ځمکه اوس نو وصل د اسمان سخت دی

ژاړمه ځکه چې ستا مینې لېونی کړم اشنا
اوس لېونیانو په شان روغ ساتل گریوان سخت دی

دا عقیده مې ده چې کفر ته مې ونه باسي
پرهیزگارۍ په خوا کې گرانه دې شیطان سخت دی

دغه رالم حالت زه څومره زخمي کړمه اوس
ښودل د هر پرهر که هر څومره اسان سخت دی

یا الله ته د چا دزړه هېنداره نه کړې ټوټې
حسیني وایي پوهول د زړه نادان سخت دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

ستا په نامه به یو غزل ولیکم
د ژوندون راز به مکمل ولیکم

چې دا د مینې سوال پاتې نشي
په ډېره مینه به یې حل ولیکم

هجران ترمېنځ چې مو رانشي اشنا
زه به وصال د لارې مل ولیکم

که د ې ملنګې ته دې ور خلاص نه کړ
خیر به زړګي ته تحمل ولیکم

بې وفا نه یې چې جفا به وکړې
ستا صفتونه لس که شل ولیکم

حسیني وصل دې له خدایه غواړي
ښایست به ستا لکه کابل ولیکم





## غزل

نه په تورو نه په سپینو کې وفا شته
چا ویلي دي چې مینه کې خندا شته

په ملالو سترګو هسې انتظار دی
نه وعده اونه خبرو کې رښتیا شته

داسې نه ده چې ښیرا مې نه قبلېږي
خو افسوس د هغه درد کې درد زما شته

د ټول عمر غلامي مې ستا قبول کړه
اورم دا چې غلامي کې ستا ګناه شته

حسیني په مرګې نشي خفه ګرانه
دبې وزلو بل ساتونکی خامخا شته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نه منم

هر څه په سترګو دې منم خو تا جدا نه منم
ځکه یوسف خواکې مې بله ذلیخا نه منم

له درده وسوم دا کم عقل خلک وایي راته
لاروی د دوو زړونو ترمنځه دارښتیا نه منم

هسې زړګی مې بېچاره تا په ناحقه ګڼې
دارو درمل مې اوس زړګي ته په دنیا نه منم

یمه اسیره دې زندان کې په سلګو په اوښکو
ګرانه په مینه کې اوس هیڅکله ګناه نه منم

دا دنیا قانون د ستور به نور په خدای سپارمه
ځکه نړۍ کې له هغه ذات بل دانا نه منم

که هزار ځله درته ووایمه لړه به دې
حسني ځان نه بغیر بل په تا شیدا نه منم





## غزل

خندا مې هیره شوه ژړا هم رانه پاتې اشنا
هغه خوښي هغه موسکا هم رانه پاتې اشنا

یم په کوڅو سر د غمونو جنازې مې تړم
ښېرا پرېږده هغه دعا هم رانه پاتې اشنا

باسم به څنګه بې وفا د استا نامه له زړګي
فکرو کې غرقه یم دنیا هم رانه پاتې آشنا

په دې نیمګړې دنیا ګۍ کې دې نیمګړې کړمه
د مینې پای له ابتدا هم رانه پاتې اشنا

حسیني ستا مینه کې داسې لېونی شومه زه
نوم د مجنون او د لیلا هم رانه پاتې اشنا

(c) ketabton.com: The Digital Library



## غزل

تـــا ســــوزولی یــــم پـــه اور جانانـــه
طاقــت مـــې نـــه کېـــږي پـــه کـــور جانانـــه

خپـــل ژونـــد مـــې  گرانـــه ســـتا پـــه نـــوم لـــیکلی
هـــم د زړگـــي مـــې یـــې ټکـــور جانانـــه

څنگـــه دې وپوهـــوم گـــران یـــې پـــه مـــا
هـــیر رانـــه دی عقـــل و شـــعور جانانـــه

امتحـــانونو ورځـــې لنـــډې شـــولې
کتـــاب کـــې ســـتا ښـــکاري انځـــور جانانـــه

ضرور لـــه مرگـــه  بـــه مـــې تـــه خـــبر شـــې
لـــه حســـیني غـــواړې څـــه نـــور جانانـــه





## غزل

د مینـــې پـــټ راز درتـــه ویـــلی نشـــم
ځکـــه ســـتا خیـــال زه خپلـــولی نشـــم

لـــه مجبـــورۍ نـــه بـــه خنـــدا کومـــه
ځکـــه دا ســـتا مـــخ کـــې ژړلی نـــه شـــم

کـــاش چـــې زه  نـــه ومـــه پیـــدا پـــه دنیـــا
اوس بـــې لـــه تـــا ژونـــد تېـــرولی نشـــم

د لبونتـــوب مبـــارکي مـــې راکـــړه
اوس تـــا هـــم ځـــان زه پېژنـــدلی  نشـــم

زخمـــي زړگـــی مـــې اوس پـــه چغـــو ژاړي
وایـــې د انـــور درد زه زغمـــلی نشـــم

خـــیر کـــه پـــه مـــا بانـــدې راځـــي  لـــوی مـــاتم
حســـیني تـــا لـــه زړه ویســـتلی نشـــم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## مینه څه ده ؟

مینه ده مینه څه قصه خونه ده
داکوم غزل یا ترانه خو نه ده

نه فزیکونه نه کیمیا یادوم
نه ده تاریخ هم جغرافیه خونه ده

نه د نیوټن نه فیثا غورث د قضیې
کومه ماده یا مسئله خونه ده

مثلثاتو ساین کوساین نه تېرشه
هم د الجبر معادله خو نه ده

نه کمپیوټر نه انټرنېټ دی ګرانه
څکه سوال یا فرموله خونه ده

ولې منطق او فلسفه لټوې
مینه ده ګرانه ، فلسفه خونه ده

رښتیا ده دا چې مینه سور انګار دی
د حسیني څه بهانه خو نه ده





## د رمضان مبارکې میاشت ته

مسلمانانو دا د پاک خدای امتحان دی
راغلی رمضان دی د پاک الله مهمان دی

ډکه له نور اوله رحمته
هم د دنیا او اخرته

هم نازل شوی په دې میاشت کې قران دی
راغلی رمضان دی د پاک الله مهمان دی

خلاصه یې ښکلې دروازه ده
د دې لپاره چې روژه ده

هم قبلوونکی مو د هر توبې سبحان دی
راغلی رمضان دی د پاک الله مهمان دی

هم پښمنی یې خوندور دی
لکه برات یې مازیګر دی

حسیني لوی اختر د هر ماښام اذان دی
راغلی رمضان دی د پاک الله مهمان دی

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د معارف ترانه

معارفه ته زمونږه د ژوندون بله رڼا یې
د هر انسان عزت لپاره ته یوه ښکلا یې

دا ستا ښکلی نوم ګوره چې په هر وخت کې روښان دی
چې تاته ښه نظر کوي هغه مو قدردان دی

زموږ د افغانانو همېشه پت او حیا یې
د هر انسان عزت لپاره ته یوه ښکلا یې

موږ ټولو شاګردانو ستا ساتلی احترام دی
منلې مونږ تل ستا قوانین او ښه احکام دي

د هر چا په زړګي کې تقاضا او تمنایې
د هر انسان عزت لپاره ته یوه ښکلا یې

چې ګورم ستا خدمت ته په کتلو شم حیرانه
ته مو ارزښت ته مو درنښت ته مو بها یې

تل ویاړ کوي زرلښته حسني په دې وینا کې
د هر انسان عزت لپاره ته یوه ښکلا یې





## ښځه څوک ده

پوهېږي ښځه ژوند او دژوندون لویه بقاده
د هر کور پانوس دی دهر کور ښکلا ده

د حسن ملکه ده
په شاه ګدا درنه ده
ډالۍ د وخت مجنون ته په نامه باندې لیلا ده
د هر کور پانوس دی دهر کور ښکلا ده

ملګری د ژوندون ده
د هر زړګي سکون ده
داده د جنت حوره بل هیڅوک نه ده همدا ده
د هر کور پانوس دی دهر کور ښکلا ده

ده ډېره با غیرته
هم ډکه له همته
په سترو کارنامو باندې یې ودانه دادنیا ده
د هر کور پانوس دی دهر کور ښکلا ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



دې شور يې په احساس کې
زانګو يې په يو لاس کې
په بل لاس د انړۍ زنګوي لويه تماشاده
د هر کور پانوس دی دهر کور ښکلا ده

د عشق افسانه کې
د هجر ترانه کې
قران يې حسيني ستايي د مصر زليخا ده
د هر کور پانوس دی دهر کور ښکلا ده





## ترانه

پوره به ستا هر يو ارمان کړم پښتنه پېغله يم
سر به له تانه خپل قربان کړم پښتنه پېغله يم

هريو د ښمن به دې ډېر ژر تباه رسوا وګورې
دا نيان او فرعونيان به ته تباه وګورې
چې تاته ټول جهان حيران کړم پښتنه پېغله يم
سربه له تانه خپل قربان کړم پښتنه پېغله يم

زه به دا ستا د کاڼي بوټي احترام کومه
واړه قومونو ته خدمت به تل مدام کوم
ښار به دې هر ډاک او بيان بيان کړم پښتنه پېغله يم
سربه له تانه خپل قربان کړم پښتنه پېغله يم

په ربښتيا وايم په خبرو مې سوګند کومه
قدر به ستا د هر بچي او هنرمند کومه
نوم دې نړۍ کې به روښان کړم پښتنه پېغله يم
سربه له تانه خپل قربان کړم پښتنه پېغله يم

د حسيني دغه ارمان دی چې ودان اوسې تل
ته په ښکلا کې تاج د دې اباد جهان اوسې تل
خپور به نړۍ کې پاک قران کريم پښتنه پېغله يم
سر به له تانه خپل قربان کړم پښتنه پېغله يم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## هېواده

زما جنت نشانه ظالمـــــان مې ژړوي
دا ستا لپاره تل دا دښمنان مې ژړوي

ځوانان مو شهيدان شول
بې پلاره ماشومان شــو ل
همېش دهر يتيم ځېرې گريوان مې ژړوي
دا ستا لپاره تل دا دښمـــــنان مې ژړوي

په اصل پښـــتنه يم
په قـام باندې درنه يم
بې اصله بې نسبه قيبـــان مې ژړوي
دا ستا لپاره تل دا دښمنان مې ژړوي

ودان به افغانستان شي
پوره به مې ارمان شي
نور وايي حسيني دغه ارمان مې ژړوي
داستا لپاره تل دا د ښمنان مې ژړوي





## لغمان جان ته

بچی دې غيرتي دی تا به ساتي په ميړانه
زه ځار دې شم لغـــــــــــــــمانه

لغمان کې شنې درې دي
اوبه يې ډېرې خوږې دي
په قام باندې درنـــې دي
ښايسته ښکلي باغونه لري هم په کې گلانه
زه ځار دې شـــم لغـــــــــــــــمانه

وطن زموږ لغـــــمان دی
په دې خاطر ډېر گران دی
زموږ ځان او ايمـــان دی
شعرونو کې به يې ستايو په هر وخت په هر زمانه
زه ځار دې شـــــم لغـــــــــــــمانه

زما دادی ارمــــانه
هر وخت وايم لغمانه
خبر نه يم له ځانــه
زرلښته حسيني همېشه سوال کړي دايمانه
زه ځار دې شـــــــم لغـــــمانه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## سندره

جوړ به دې جانان کړم یمه لغماني پیغله
هیر به درنه ځان کړم یمه لغمانۍ پېغله

نشته مې ثاني نه پېښور او نه کابل کې
ستايي مې هر څوک په هر محفل په هر غزل کې

تابه خپل ارمان کړم یمه لغمانۍ پېغله
گوره چې مې ونه سیزې گرانه بې انگاره

یمه نازولې خلاص به نشې له ازاره
خپل ژوند به داستان کړم یمه لغمانۍ پېغله

وایي حسیني زه په ښایست کې ښاپېرۍ یمه
زه د خیاله ډکه د خوبونو شهزادگۍ یمه

پوه به زړه نادان کړم یمه لغمانۍ پېغله
هیر به درنه ځان کړم یمه لغمانۍ پېغله





## اخترته

څومره ښایسته دا د اختر داورځې شپې دي
ډېرې په زړه پورې یې لحظې هرې شیبې دي

د زړه له خلاصه دیدنونه
د خوشحالۍ نه ډک وختونه
د خوشحالۍ نه د هر چا ډکې خولې دي
ډېرې په زړه پورې یې لحظې هرې شیبې دي

په چکر وزي ستا بچیانه
که دا واړه دي یا لویان
هم پلوشې د خوشحالۍ خورې ورې دي
ډېرې په زړه پورې یې لحظې هرې شیبې دي

حسیني تل کړي هوسونه
ځکه لیکي درته شعرونه
ځکه دهر اختر ښایسته ښکلې میلې دي
ډېرې په زړه پورې یې لحظې هرې شیبې دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلوریزه

لکه د سیوري درپسې یم ځکه
ته یې زما د زړګي غل جانانه

الله ج دې خیر کړي ګرانه څه به کېږي
په اوښکې لیکم خپل غزل جانانه

%%%

سوری سوری زما ګوګل دی ګرانه
لیکلی ما درته غزل دی ګرانه

((حسیني )) ستړی په مزلونو شوله
دا څومره لرې ستا مزل دی ګرانه

%%%

زما له زړه نه کربلا جوړه شوه
ښکلی چمن نه مې بیدیا جوړه شوه

کله حیرانه کله شم په ژړا
راته له مینې مې سزا جوړه شوه





## څلوریزه

ما ورته کتلي نن له لرې دي
سترګو نه مې سترګې مرورې دي

اوښکې تویومه په ګلونو زه
یادې راته ستا یاره خبرې دي

%%%

ځکه شومه لېرې ستا له څنګ یاره
وا مې نه وري څوک د بنګړو شرنګ یاره

مینه مې له هغه چا نه کرکه کړي
څوک چې په وطن نه کوي ننګ یاره

%%%

جنت خو دې حرام شو دوزخونه به دې ګورم
د مینې د مضمون ټول کتابونه به دې ګورم

په ځمکه خو الله خبر چې لاسته به مې راشي
زه ستورو پسې ګرځم اسمانونه به دې ګورم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ځلوريزه

ای د تهمت ای د الزام ژوندونه
ای د تيارو ای د ماښام ژوندونه

ځوبه کوم د زمانې نه ګيلې
د رب لپاره شه تمام ژوندونه

%%%

چاسره نور مه لره کار زړګيه
خير که غمو کې يې حيصار زړګيه

د ژوند ملګرې مې شوې ستا اندېښنې
شته د بې کسو يو بل يار زړګيه

%%%

زمانه لاره هم مزل پاتې دی
هم مې له سترګو نه کجل پاتې دی

په دې رټلي زړه به يې زه يادوم
رانه ناول رانه غزل پاتې دی





## ځلوريزه

هيڅ راته چل ول د دعا نه راځي
که په خندا شم نو خندا نه راځي

زه يې له مينې توبه ګاره کړمه
که مړه هم شمه نو پروا نه ورځي

%%%

يابه ته ښايسته يې يا به ښکلو ځان پټ کړی وي
دې ټولې د نيا کې بس يو ښکلی راته ښکارې

سترګې مې له اوښکو ډکې زړه درپسې درد کوي
شاه مې د زړګي يې او ښاغلی راته ښکارې

%%%

شپه چې شوه جانانه په ژړا شومه
ستا له درده ويښه تر سبا شومه

بيا مې ستا تصوير زړه ته نږدې کړلو
چې څنګه زه نيمګړې بې له تا شومه

(c) ketabton.com: The Digital Library



## څلوریزه

ما ورته ویلي ماته مینه دومره مه راکوه
ته به رانه لاړشې زه به ژاړم ستا خیالونو ته

ولې حسیني دې په دنیا داسې نا هیلې کړم
نشم اوس درمان موندلی خپلو پرهرونو ته

%%%

ستا خیالونو شو ګیرو سره عات کړم
له بلا بلا غموسره عادت کړم

چا پسې چې لټومه دا دنیا نن
له ژړا اوله سوچو سره عادت کړم

%%%

راغی رمضان خو ته پخلا نشوې
څنګه مې دردونو ته د وا نشوې

ستا د سترګو لاندې ما به ډېر ژړل
څنګه ته بې درده ته زما نشوې

څلوریزه





هرڅه به هیر کړم هغه شپه هیروی نشم
ته چې رانه لاړې ما ژړل ستا تصویرونو ته

وایې حسیني چې به مې خیال کې ستا څېره راتله
شوم به په افسوس خپلو نیمګړو غزلونو ته

(c) ketabton.com: The Digital Library



## قطعې

په تنهایی کې ستا غمونه راشي
ځکه راځي ګله ژړا سترګو ته

په هریو ګل چې مې نظر پریوځي
هلته درېږي ته زما سترګو ته

%%%

خلک په نیمه شپه نفلونه کوي
زه ستا د مینې غزلونه لولم

دا مې ژړېږم تر سهاره راته
زه مې هر درد او پر هرونه لولم

%%%

ته راته یونان او مصربار بار یادوي ولې
مانه مې جانان تر فرانسې پورې جدا ښکاري

صبر مې تمام دی مانه نور امتحان مه اخله
زړه د حسیني دغمه ډک له دې دنیا ښکاري





## مننه

د کابل پوهنتون له استاد درانه سیاسي او فرهنګي شخصیت قدرمن محمد اسماعیل یون صاحب څخه نړۍ مننه چې د دغه کتاب د چاپ لګښت یې پرغاړه واخیست، همدارنګه د ننګرهار ولایت اطلاعاتو او فرهنګ له قدرمن رئیس اورنګ صمیم او د فرهنګ امر ښاغلي امرالله امید صیب څخه نړۍ نړۍ مننه چې زما کتاب یې وکوت او خپلې سریزې یې پرې ولیکلې.

حسیني

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مننه او کور ودانی

د افغانستان ملي تحریک له هېواد پال او فرهنګپال شخصیت ښاغلي (میرحمزه سامیزی) څخه د زړه له تله مننه کوي چې د دې اثر چاپ ته یې اوږه ورکړه. ملي تحریک ویاړي چې د علمي اثارو د چاپ لړۍ یې پیل کړې ده. دا لړۍ به دوام لري. موږ له ټولو درنو هېوادوالو څخه په خورا درنښت هیله کوو چې په خپل معنوي او مادي وس د کتابونو د چاپ دا لړۍ لا پسې وغځوي.

یو ځل بیا د دې اثر له شاعرې او چاپوونکي څخه د زړه له تله مننه کوو چې د دې اثر د پنځولو او چاپولو جوګه شول.

په فرهنګي مینه

د افغانستان ملي تحریک

(c) ketabton.com: The Digital Library

## د شاعرې پېژندنه

اغلې زرلښته ((حسيني)) د نور حسين ((نوري)) لور د لغمان ولايت، عليشنګ ولسوالۍ د غازی آباد کلي اصلي اوسېدونکې ده او په ننګرهار کې د پشيانو په درنه کورنۍ کې زېږېدلې. اغلې حسيني خپلې ديني زده کړې په ماشومتوب کې ترسره کړي او په ۱۳۹۱ کال کې د بي بي مريم له عالي لېسې فارغه شوې ده. هغه اوسمهال د حقوقو او سياسي علومو د پوهنځي محصله ده.


حسيني په شپږم ټولګي کې وه، چې په شعر ليکلو يې پيل وکړ او تر دې دمه يې په پښتو او پشه يي ژبو شاعري کړې او په خواکې يې د نثر او ناول ليکنې په برخه کې هم خپله ورتيا ازمايلې ده. زه اغلې حسيني ته د دې بري له امله مبارکي وايم او په مستقبل کې ورته د لازياتو پرمختګونو په هيله يم.

درنښت

شريف الله (( انتظار ))
بلجيم
۱۳۹۴/۱۲/۴

د افغانستان ملي تحريک
www.melitahrik.com

د خپرونو لړ: ۸۹









**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**